Seattle Office of Labor Standards

## ***د کارمندانو لپاره د تولني وکيل او د جرم قرباني حقونو خبرتی***

د ځوروني يا تاوتريخوالي عمل څخه د هوټل د کارمندانو د خونديتوب حکم، Seattle Municipal Code 14.26 (SMC)، د هوټل او د هوټل فرعي سوداګرۍ کارګومارونکي مکلف کوي چې هغه پوښل شوي کارمندانو ته دا خبرتيا ورکړي چا چې د هوټل د ميلمنو لخوا ادعا شوې تاوتريخوالی يا ځورونه تجربه کړي.

**که چيرې تاسې د هوټل د کوم ميلمه په واسطه د ادعا شوي تاوتريخوالي يا ځوروني سره مخ شوي يی، تاسی د لاندې مواردو حق لرئ:**

1) ***د تولني وکيل.*** د تولني وکيل نقش دا دی چې تاسې ته د ورځې په هر ساعت کې او د اونۍ په ټولو ورځو کې د وکالت وړيا محرم خدمتونه وړاندې کړي. د تولني وکيل به د ملاتړ دا خدمتونه وړاندې کړي: a) د SMC 14.26 لاندې ستاسې حقونه او هغه انتخابونو تشريح چې د اقدام څرنګوالي لپاره يې تاسې لرئ؛ b) ستاسې د انفرادي اړتياو پوره کولو لپاره د رجعت خدمتونو وړاندې کول؛ او c) د هوټل د ميلمه لخوا د تاوتريخوالي يا ځوروني پيښې راپور ورکولو کې تاسې سره مرسته کول، که تاسې د راپور ورکولو انتخاب وکړئ. دې خدمتونو ته ستاسې لاسرسی د کوم ميلمه لخوا د ناوړه چلند پيښې په اړه د راپور ورکولو پورې مشروط ندي؛ تاسې کولی شئ دې خدمتونو ته بوازې د خپلو انتخابونو ارزولو لپاره لاسرسی ولرئ.

د City of Seattle (سياټل ښار) تاسې ته د دې سرچينو وړاندې کولو لپاره د 24 ساعته هاټلاين لرونکی، په تولنه کې موجود د قربانيانو د وکالت سازمان King County Sexual Assault Resource Center (KCSARC) سره قرارداد کړی دی. تاسې کولی شئ د لاندې شميرې له لارې د محرم خدمتونو ترلاسه کولو لپاره KCSARC ته تليفون وکړئ: 1-888-99- غږيز (1-888-998-6423). د KCSARC په اړه د نورو معلوماتو لپاره، مهرباني وکړئ وګورئ: https://www.kcsarc.org/.

2) ***د RCW 7.69.030 لاندې د جرم قربانيانو وکيل او نور حقونه.*** د Revised Code of Washington 7.69.030 (RCW، واشنګټن اصلاح شوي کوډ 7.69.030) لاندې، د جرم قربانيانو ته ځو حقونه ورکول کيږي چې جنايي محکمې يا د تنکي ځوانانو محکمې پروسې باندې پلي کيږي. که تاسې د تاوتريخوالي يا د جنسي جرايمو سره مخ شوي يی، تاسې حق لرئ د جرم قربانيانو لپاره وکيل ولرئ چې د پلټنې يا د دفاعي مرکو پرمهال حاضر اوسي. د جرم قربانيانو وکيل نقش تاسې ته د احساسي ملاتړ وړاندې کول دي. د RCW 7.69.030 لاندې، تاسې همدارنګه د غيرمناسب ځنډ پرته سملاسي طبي مرستې ته د لاسرسي حق لرئ او دا چې کوم څوک ولرئ چې ستاسې د کارګومارونکي سره مداخلت وکړي، که لازمي وي، ترڅو محکمه کې د ګډون کولو له امله د تاديه زيان لږترلږه شي. د جرمونو سره مخ شوي افرادو ته ورکړل شوي حقونو په اړه د نورو معلوماتو لپاره RCW 7.69.030 وګورئ.

د جرم قربانيانو د وکالت خدمتونو په اړه د نورو معلوماتو لپاره، تاسې کولی شئ اړيکه ونيسئ: د قربانيانو د ملاتړ خدمتونه په 1-888-288-9221 يا KCSARC په 1-888-998-6423.

3) ***د King County د ځانګړي يرغل پروتوکول.*** دا پروتوکول په هغه قضيو کې د تعاوني پلټنو او خدمتونو لپاره لارښووني وړاندې کوي چې په King County کې په ځينې جرمونو کې دخيل وي. د RCW 26.44.180 او RCW 26.44.185 په تعقيب تاسيس شوی دا پروتوکول د دې لپاره ډيزاين شوی چې د پلټنو روڼتيا ډيره کړي، د قربانيانو، مشکوک افرادو او ټولنو ګټې محافظت کړي، او ډاډ وړاندې کړي چې مناسب خدمتونه د جرمونو سره مخ شوي افرادو او د هغوی کورنيو لپاره موجود دي.

*د دې فورمې په اړه پوښتني لرونکي کارګومارونکي او کارمندان کولی شي د Office of Labor Standards (OLS) سره په 206-256-5297 شميره اړيکه ونيسي يا د OLS ويب سايټ http://www.seattle.gov/laborstandards ته ورشي.*

**نسخه: 07/2020**